ډاکتر لمر ۲۰۱۰/۸/۲۰

# پښتو د ذهني انارشيزم په لومه کې

درنو هېواودوالو!
تاسو ته مالومه ده، چې په وروستیوڅو کلونو کې پښتو لیکدود د سیمییز ګړدود تر سیورې لاندې راغلی او په دې اړه ګڼشمېر لیکنې هم تر سره شوې دي، چې یو شمېر لیکوالو پښتو خپل انحصاري مسؤلیت ګرځولی او د پښتو لېوال خلک یې د ذهني انارشیزم له ګواښ سره مخامخ کړي دي.
دا جوته خبره ده، چې هره ژبه د ټولنې له پرمختګ سره وده کوي، خو په افغانستان کې د څو لسیزو په بهیر کې جګړه روانه ده او افغانانو ونشوای کولی، چې خپل ټولنیز ژوند ته سم مسیر ورکړي او د بېلابېلو سیمو خلک د جګړې په ترځ کې په خپلو سیمو کې تجرید شول، له بل پلوه افغانان په بېلابېلو ډلو کې ښکېل شول، چې دغه ټولنیز بېلتون د ټولنې په وده کې منفي اغېز پرېښود او د تېرونو د ورشې درشې بهیر یې په ټپه ودراوه، چې د دغو پېښو اغېز تر ننه په افغاني ټولنه کې محسوسېږي. له بدمرغه پښتو هم د سیاسي ملحوظاتو او سیمییز شونیزم قرباني شوه، چې اوسمهال پښتو د خپلې دودېزې ودې پر ځای باید یو ژبنیز اوښتون تر سره کړي، چې له نورو ژبو سره سیاله شي.
د ننني تکنالوژي اغېز هم باید له پامه و نه غورځول شي، یو شمېر ځوان افغانان په دې وتوانېدل، چې خپلې برېښناپاڼې جوړې کړي او له خواشیني سره باید یاده شي، چې له دغو افغانانو څخه یو شمېر حتی د ښوونځي په کچه زده کړې هم نه لري، مګر په کمپیوټري چارو کې لاسبري دي، چې حتی د پښتو ستر لیکوال هم دغو افغانانو او د هغوی برېښنا پاڼو ته اړ شوي دي او د نزاکت له مخه له هغوی سره د پښتو په اړه زغرده خبره نه شي کولی، د پارسیانو خبره (آب خود را پف کرده مینوشند!).
د پښتو په اړه د بې مسؤلیتي دریځ، ما ته د افغانستان د وروستیو څولسیزو اداري او ټولنیزې چارې راپه یادوي. کله چې د غویو غوبل رامنځ ته شو، نو د نظامیانو لپاره یې بېړني کورسونه دایر کړل او له کوڅه ډبو نه یې په څو میاشتو کې لکه ماشیني چرګان، هشتکي منصبداران راوایستل، په نورو چارو کې یې د ډاکتر، انجینیر او داسې نورو د مرستیال په نامه هم ګڼشمېر کانکور وهلي وروزل، چې پایله دا شوه، چې دغو وګړو ځانونو ته بیا د ډاکتر او انجینیر القاب ورکړل او نن سبا څوک ستر جنجال او څوک هم د جنجالانو مارشال شو، چې په دې توګه د زده کړو او نا زده کړو توپیر له منځه لاړ. یو وخت ویل کېدل، چې: (ډېره واړوې، نوشل لړمان یې تر لاندې دي، خو نن سبا ویل کېږي، چې: سنګه ورداري زېرش بیستا جنرال خانه کرده! او هر چا د ډاکتر و انجینیر مختارې هم له خپل نامه سره نښلولی دئ، چې اوس په افغاني ټولنه کې د پوهې او لوستو خکو درنښت له منځه تللی او هېڅوک قانون، ټولنیز ارزښت او ملي دریځ ته درناوی نه کوي.
افغاني رسنۍ هم نن سبا لکه د ماشیني هشتکیانو ځانګړتیا خپله کړې ده، چې په هر کونج کې یې لکه مرخړي سر راپورته کړی، خو یو شمېر داسې خپرونې او برېښناپاڼې شته، چې په ریښتیا هم د افغانستان په ټولنیز ژوند کې ډېر غوره رول لوبوي، مګر هغو بېسوادو افغانانو ته چې په رسنیو کې لاسبري دي زما سپارښت دا دئ، چې اول یې زده کړه بیا یې کوزده کړه! او په پښتو مړندې مه وهه او سمسوره پښتو د سیمییز ګړدود په لومه کې مه وژنه او خپل ستر ټبر په سیمو مه وېشه.
اروپا ته د ښاغلي عبدالباري جهاني له راتګه وروسته او په تېره بیا په بېلژیک (بیلجیم) کې د ښاغلي عبدالباري جهاني د وینا او د پښتو په اړه د هغه د څرګندونو په اړوند یو شمېر لیکنې شوې دي، چې یو شمېر یې له احساساتو ډکې او نورې یې د یو او یا بل په ستاینو کې رنګین شوې لیکنې دي، خو دا څرګندونې د پښتو د درد درمل نه شي کېدلی، مګر دغه څرګندونې بیا هم د پښتو لیکدود معیارېدو ته په نېغه ښودنه کوي، چې د پښتو په علمي کېدلو او ستندرد کېدلو کې پښتو کره لیکدود یو غوره ټولنیز او پوهنیز خوځښت ګڼل کېږي.
درنو لوستونکو! پښتو په آسیا کې د سیمې یوه لویه ژبه ګڼل کېږی او له ۱۰۰ میلیونو زیات ویونکي لري، په افغانستان او پښتونستان کې رسمي ژبه ده او په هندوستان کې د سیمییزو پښتنو ژبه ده. په نړۍ کې پرته له افغانستانه او پښتونستانه په ډېرو پرمختللو ملکونو کې د پښتو د څېړنې او ودې اکاډیمۍ فعالیت کوي او په مسلسله توګه د پښتو په وده کې خپلې ارزښتناکه پرېکړې تر سره کوي اوپلې کوي یې، خو له خواشیني سره باید یاده شي، چې افغان لیکوال، چې پښتو یې خپله ژبه ده، نو له پښتو سره د پلندر او میرې چلند کوي او سمسوره پښتو یې خپل انحصار ګرځولی او هغه تر سره کوي، چې نه یې پوهنیز بهیر مني او نه هم ژبنیز منطق.
ښاغلي عبدالباري جهاني د افغانستان پېژندل شوی شاعر، لیکوال او د امریکا غږ راډیو په پښتو څانګه کې یو منل شوی ژورنالیست دئ، خو د افلاطون خبره را یاده شوه، چې ویل یې ؤ «زما مخکښ ښوونکی او ټولنیز رهبر پر ما


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډېر ګران دئ او درناوی ورته کوم، مګر ریښتیا زما د مخکښ استاد تر مینې لیا غوره او اوچت مسؤلیت دئ!»، نو زه هم د پښتو په اړه د ښاغلي عبدالباري جهاني له څرګندونو سره موافق نه یم، نو د منطقي ژبنیز بهیر او په ټولنه کې د ژبې ودې ریښتنی اړخ تر هر ډول اړیکو غوره ګڼم.

ښاغلي عبدالباري جهاني او یو شمېر نورو لیکوالو خپل نظریات د پښتو لیکدود په اړه لیکلي دي، خو د کره پښتو لیکدود په اړه تر ننه پورې د افغاني لیکوالو ترمنځ همغږي نه شته. ښاغلی عبدالباري جهاني وایي، چې هر څوک باید په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي او په مورنۍ ژبه دې یې ولیکي، نو پوښتنه دا ده، چې د ملت په کچه د مور په ژبه ولیکو او که د کره لیکدود په بڼه، چې ملي شالید لري، چې یوه ورځ پښتو هم له نورو موډرنو ژبو سره یوه برابره سیاله ژبه شي.

د ښاغلي عدالباري جهاني د څرګندونو لپاره ستاسوپام د ډاکتر کاکا جان سهار لیکنې (هغه جهاني چې وطني هم نه شو) لوستلو ته رابولم. ښاغلي عبدالباري جهاني په بلژیک کې د ښاغلي ډاکتر صیب کاکا جان سهار د لیکنې (هغه جهاني چې وطني هم نه شو) پر بنسټ، داسې څګندونې کړې دي، چې مرحوم بینوا او مرحوم الفت ډېر ښه دوستان ول، خو یو به ویل:

بېنوا: د درختې تر ساېې لاندې ناست ؤ او سېبان مو خوړل!

الفت: د ونې تر سیورې لاندې ناست ؤ او مڼې مو خوړلې!

د جهاني صیب د دغو څرګندونو په اړه، په نیدرلند (هالند) کې د افغاني کلتوري ټولنې په پوهنیز سیمینار (پردېسي او د هویت ستونزه) کې لنډه نغوته شوې ده، خو د جهاني صیب دغه څرګندونې نوې نه دي، لیا څو کاله مخکې په بینوا برېښناپاڼه کې د ښاغلي عبدالباري جهاني څو مرکې خپرې شوې وې، چې پورته یادې شوې څرګندونې پکې یادې شوې دي او د هلمند پګړې (میاشتنۍ) خپرونه هم د ښاغلي عبدالباري جهاني په سپارښت په «بګړۍ» واوښته او نورې مرکې یې هم له ورته څرګندونو سره هورې دورې خپرېږي.

ښاغلي ډاکتر صیب کاکا جان په خپله لیکنه کې په ښاغلي جهاني بربنډه تېرې کړې، چې د پښتنی لیکوالو احساسات یې راپارولي او د یو شمېر نورو افغانانو پام یې بیا د پښتو کره لیکدود غوره والي او د دغه ستونزې څېړنې ته اړولی او د چارو د سنجولو اړخونه یې پیاوړي کړي دي.

زه د ژبپوهانو او ادبپوهانو پوهنیز غبرګون ته په تمه وم، چې د پښتو کره لیکدود په اړه به منطقي او پوهنیزې څرګندونې وکړي، خو له بده مرغه، چې ځانګپوهانو د سکوت دریځ خپل کړی او موږ اماتوران دې ته اړ یو چې د پښتو ادب دغه تشه په نامسلکي لیکنو ډکه کړو.

بیرته د ښاغلي عبدالباري جهاني څرګندونو ته ستاسو پام اړوم. ولې پګړۍ به «بګړۍ» اوړي. درنو لوستونکو په عربو کې د «پ» توری نشته، نو ویل یې هم عربو ته ستونځمن کار دئ، نو ځکه پښتون ته «ښتون» وایي، مګر د پښتو پیل په «پ» توري کېږي، چې د «پ» توری د پښتو شمزۍ ګڼلی شو، نو ولې هغه څه چې په پښتو کې وي، نو منحرف یې کړو او دودېزه پګړۍ په بګړې واړو!

د مرحوم بینوا څرګندونه: د درختې تر ساېې لاندې ناست ؤ او سېبان مو خوړل!، نو که د دغه غونډلې پارسي ته مخه کړو، نو داسې به ښکاري: «تحت (زیری) سایه درخت نشسته بودیم و سیب میخوردیم»، خو پوښتنه دا ده، چې کومه غونډله پښتو وګڼو او کومه پارسي، درنو هېوادوالو، هرومرو په ګرامري بڼه د مرحوم بینوا خبره پښتو ته ورته ده، خو له ۵۰ ٪ زیات ویې یې پارسي دي، چې پښتو له موږه پردۍ کوي، نو د پښتو په کره لیکدود کې د غونډلې جوړښت، پښوییز تسلسل او لغوي پانګه غوره ګڼل کېږي، یانې سوچه، کره او سمه پښتو د ژبې پوهنیز بنسټ جوړولی شي.

له پورتو یادوشویو څرګندونو دا پوښتنه په ګوته کېږي، چې د پښتو معیاري لیکدود باید په څه ډول رامنځ ته شي، څوک یې رامنځ ته کړي او په څه ډول پښتو لیکدود له اوسني ذهني انارشیزمه وژغورل شي. د پښتو پښویه، غونډله، ویي او املایي برخه باید په څه ډول کره شي.

درنو لوستونکو! پښتو یوازې د پوهاوي او ګړېدلو ژبه نه ده، پښتو سمسوره ژبه ده او نن سبا پوهنیز ډګر ته ورننوځي او پوله یې د شعر او ادب په وربځ کې نه شي پټېدلی، مګر د نوي نسل په مټو باید خپلې پوهنیزې لوړتیا ته ورسېږي، چې پښتو کره لیکدود کېدای شي د پوهانو په یووالي او د پښتنو په ملت جوړېدنه کې یو غوره رول ولوبوي.

پوښتنه دا ده، چې په اوسني شرایطو کې، چې افغانستان له صلیبي ښکېلاکه سره لاس او ګرېوان دئ، افغاني پوهان په بېلابېلو ملکونو کې پردېس دي او د یو او بل سره ګډ پوهنیز دریځ او د ګډ کار امکانات نه لري، نو ځکه د پښتو کره لیکدود هڅې د یو شمېر لیکوالو د لیکنو تورې کرښې ګرځېدلې دي، چې نه پایله لري او نه هم ټولنیز اغېز، بیا هم ښه وایي، چې ژوند په اومید خوړل شوی، نو ناهیلي به لرې کړو او د دې پوښتنې ځواب باید ومومو، چې په څه ډول یوه د پښتو پوهنیزه جرګه رامنځ ته کړو، چې ځانګپوه افغانان پکې غړي شي او د نړیوالو ژبو او څېړنیزو مرکزونو د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پرېکړو پر بنسټ د پښتو کره ليکدود رامنځ ته شي او تېرې پرېکړې بيا وکتل شي، چې يو منطقي، پوهنيز او ملي پښتو ليکدود رامنځ ته شي.
درنو لوستونکو! تاسو ته به مالومه وي، چې د پښتو ژبې ليکوال د گوتو په شمار دي او د پښتو کاذبي څلي، چې موږ ورته ملي پګړۍ وړپرسر کوو او ملي شخصيت ترې جوړو، نو دا خلک خو بيا نور هم کم دي. په کلاسيکو ليکوالو کې، چې په ليکنو يې د پښتو لمنه درنه ده، نو دا هغه ليکوال دي، چې د پښتنو ورځنيز ژوند او خپل احساسات يې په شعرونو او ټوليزو ليکنو کې څرګند کړي، خو دژبې پوهنيزه پانګه تر ننه تشه پاتې ده.
د پورته يادوشويو ټولنيزو ستونزو، په سيمه کې جګړه او د ځانګړوهانو د نشتوالي په پام کې نيولو سره به يو وار له ځانه وپوښتو، چې آيا په پښتنو کې داسې يوه ډله د ليکوالو شته، چې يوه پوهنيزه جرګه رامنځ ته کړي او که نه؟
درنو ورونو او خويندو! افغانستان يو وروسته پاتې هېواد دئ، نو د پښتو کره ليکدود لپاره واقعآ ځانګړوه خلک پکار دي، چې د ژبې په برخه کې مسلکي وي، خو له بده مرغه افغاني ليکوال د ادب او ټولنيزو علومو په برخه کې يا د ملايي مدرسو روزلشوي اشخاص دي، چې پښتو په عربي کې رانغاړي او سپړي يا هم د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي نه فارغ شوي خلک دي، چې هلته تر ننه پورې پښتو دويمه او سيميزه ژبه ګڼل کېږي او يو شمېر نور اشخاص په سيمييز ژبنيز انارشيزم کې ښکېل دي او له دې ستونزو سره پښتو خپلي وروستی سلګی وهي، هماغه متل دئ، چې وايي: وزه د مړيني په غمونو کې ډوبه او قصاب د وازدو په خوندونو کې لاهو!
يو شمېر پښتني ليکوال يو او بل په دې ملامتوي، چې ګواکې د پښتو ليکدود په اړه بې وخته ليکني کېږي او بې ځايه ناندره يې رامنځته کړې ده، خو درنو لوستونکو بايد يوې خبرې ته پام وکړو، چې پښتو د وروستيو دريو لسيزوپه ترڅ کې له ډېرو ګواښونو سره مخامخ شوې او د سيمييز ليکبڼې او د سيمييز ګړدود په لومه کې نښتې ده، چې د پښتو په ليکبڼه کې يې درځ اچولی او کېدای شي په راتلونکي کې دغه ستونزه نوره هم پياوړې شي او دغه درځ په ټولنيزې چاودنې وانه وړي.
زه لکه يو افغان د دې حق لرم، چې کره پښتوزده کړم، مګر نه دا چې په سيمييز ګړدود کې لاهو شم. زه دا منم، چې مورنی ژبه له موره زده کېږي، خو کره پښتو هرڅوک په ښوونځي کې او بيا په پوهنتون کې له ځانګړوه استادانو زده کوي، نو د کور يا مور په ژبه نا کره ليکنه سمه نه ده او د سيمييزو ګړدودونو په اړوند سره بيا پښتو لکه نن سبا په سيمييز انارشيزم کې ډوبېږي اوکره پښتو به ورو ورو له منځه لاړه شي، نو د مخورو پښتني ليکوالو او ځانګړوهانو مسؤليت دئ، چې د کره پښتو د ليکدود غږ په سمه توګه پورته کې نه دا چې د بېلېدو ارو يې بل کړي او لمنه ورته ووهي.
زه د ژبې په برخه ځانګړوه نه يم اما په خپلو ليکنو کې تر هغه پولې هڅه کوم، چې معياري پښتو په ليکنو کې وليکم او د خپل نظر سکالو يو لوستونکي ته په آسانه بڼه وشنم او ور ويې رسوم، نو ځکه د پښتنو د يووالي، د سيمې د پښتني ټبرونو د پوهاوي لپاره، د ښوونځيو د معياري نصاب او په سيمه کې د اداري واکمني لپاره يوهٔ کره ليکدود ته اړتيا شته.
د پښتو کره ليکدود په اړه ما مخکې هم څو ځله ليکلي ول، چې موږ د پښتو يوې کره پښويي او د غونډلې د جوړښت سمې بڼې ته اړتيا لرو او د وييونو سمې ليکنې ته اړ يو، خو په دې ليکنه کې زه نه د پښويي او نه هم د غونډلې په ليکبڼه څه ليکم، ځکه چې زه ځان ته د دې اجازه نه ورکوم، چې د پښتو په ژبنيز بهيرکې ورګډ شم، خو د دغو څو کرښو په تورولو د پښتو له لويو ستو غواړم، چې په لومړي ګام کې د پښتو کره ليکدود بحث ته يو سم مسير ورکړي او که د دوی له وسې پوره نه وي، نو بيا دې د خپلې کاوړتيا ناره پورته کړي، چې ځوان نسل پوه شي، چې اوس نو د دوی مسؤليت دئ، چې متې راونغاړي او د پښتو کره ليکدود ډېوه بله وساتي او له پښتو نه يوه موډرنه و معياري ژبه جوړه کړي.
درنو ليکوالانو! تر يوه حده تاسو هم کولی شئ، چې خپلو ليکنو ته يوه کره بڼه ورکړئ، د غونډلې په جوړښت کې مثل شوی معيار وکاروئ او د وييونو (لغتونو) په ليکلوکې دقيق واوسئ، نو دا ځېل دريځ هم کولی شي، چې تر يوې کچې د پښتو ليکدود ستونزه حل کړي.
د پښتنو نفوس د ۱۰۰ ميليونو په شا وخوا کې اټکل شوی دئ، خو ځانګړوه خلک يې د ګوتو په شمار دي او يو شمېر يې د کاذبې شهرت او بې ځايه لمانځلو په څپو تاوده دي، چې دا پخپله يوه ستره ستونزه ده. هر افغان غواړي نامتو شي، نوم يې ياد شي، سيمې او واټونه يې په نامه شي، چې دغه ذهني انارشيزم د دې سبب ګرځېدلی، چې زموږ يو شمېر ليکوالو پښتو خپله مانوپولي ګڼلې او د کره پښتو پر ځاي يې خوښېږي، چې خپل سيمييز ګړدود د ليکبڼې په څېر وليکي او ژبنيز انارشيزم په پښتو ليکدود کې رامنځ ته کړي.
افغانستان په هېڅ برخه کې سم ټولنيز بهير نه لري، نن سبا پښتنانه په غبلزيو او دورانيو وېشل شوي او بيا پخپلو کې په خېلو او زيو کې سره بېل شوي دي، ځکه نو اوسمهال په بهسودو، ميدان، کندز او د شمال په ډېرو سيمو کې پښتانه لاندې کېږي او د سرپل ۲۰۰۰۰ د ساکزيو کورنی دې ته اړې شوې، چې خپله سيمه پرېږدي او په خپل هېواد کې پردېس شي، د ليلا د دښتې او د مزار د جنګي کلا پرهارونه ليا هم نه دي جوړ شوي، خو د کوچيانو په نامه بيا هم



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پښتانه وېشل کېږي او ځپل کېږي. د پښتنو په دغو ستونزو کې د لوستو افغانانو مسؤلیت دئ، چې افغاني ټولنې ته سمه اداري تګلاره جوړه او پلې یې کړي، خو افغاني پوهان هم د زورواکانو په چوپړ کې دي او له بېواکه اداري سره اېل او غېل دي.

د یوې ژبې په وده او کره کېدو کې ګړوېزونه (له سیمیز ګړدوده، کره ژبې ته د وییونو ننوتل)، زړویزونه (د ژبې د زړو وییونو موندل و په ژبه کې کارول)، نویزونو (د ټولنې له پرمختګ سره د نویو وییونو اړتیا، رامنځ ته کول او په ژبه کې کارول) او پورویزونه ( له پردیوژبو د وییونو پورول او په خپله ژبه کې یې کارول)، خپل ځانګړی رول لري، خو له بده مرغه ځیني افغاني لیکوال د دې هڅه کوي، چې پښتو پخپل ځای په ټپ ودرېږي او د پښتو له طبیعي پرمختګ اوکره کېدو سره مخالفت ښیي، څوک وایي سوچه پښتو لیکل سم کار نه دئ، ځکه چې پښتوتجربېدېږي، نور بیا وایي پښتوکې د نویو لغاتو کارول مناسب کار نه دئ، خو پوښتنه دا ده، چې څه وشي د هر لیکوال خولې ته وګورو، چې هغه څه سپاربښت راته کوي او که پخپله مطالعه وکړو او ځان په پرابلم پوه کړو!

درنو لوستونکو! نننی افغانستان اشغال شوی دئ، په افغانستان کې لاسپوڅه واکمني ده، لوېدیزوال هغه ډلې روزي او پالي، چې ګټه یې دوی ته وررسېږي، خو د خوارې پښتو څوک نه شته، چې سمه یې کړي. په ټولو ژبو کې ادلون او بدلون راځي، هر ملک خپله ژبه پالي او ملي رنګ ورکوي، خو په افغانستان کې هر څه بل ډول دي. د ډېرو پلمه د افغانستان جګړه ده او یو شمېر لیکوال و پوهان د واک لیوال دي و ځان ځواکمن نه احساسویو خولوړپوړي چارواکي دي.

د پښتو کره لیکدود لپاره ډېرو هلو ځلو ته اړتیا نه شته، د پښتو ځانګپوه ستې کولی شي د برېښنا لیکونو له لارې پرته له دې چې د پښتو له کره لیکدوده رسنی ډنډوره جوړه کې، له یو او بل سره خپل نظریات تبادله کړي او د پرمختللو ژبو په رڼا کې دې د پښتو کره لیکدود په اړه سپاربښتلیکونه خپاره کړي، نه دا چې لکه یو شمېر لیکوال، چې پښتانه په سیمییز ګړدود روږدي کړي او په موږ و موږ لیکونکو او ویونکو یې ووېشي.

د یو پوه عالم دنده دا ده، چې د هېواد وګړو ته سمه لاره وښیي. د پوهنیز چلند توپیر په دې کې دئ، چې هرې پېښې ته منطقي، پوهنیز او د تحلیل پر بنسټ سمه لاره ومومي او د وګړو قناعت تر لاسه کړي. د پښتو په برخه کې د اکثریت و اقلیت خبره سمه نه ده، د کره پښتو لیکدود لپاره باید د پښتو پښویې پر بنسټ سمه تګلاره رامنځ ته شي، نه د احساساتو او یا هم سیمییزو غوښتنو پر بنسټ.

څه موده مخکې ښاغلي معصوم هوتک د پښتو یاګانو په اړه یو لنډ سپاربښتلیک لیکلی و، چې لرابر برېښناپاڼې خپور کړی و، خو څو ورځې مخکې یې دوې نورې لیکنې (زه په زه پسې او پښتو صرف و نحو) خپرې شوې دي، خو په دواړولیکنو کې ښاغلي معصوم هوتک د خپل سپاربښتلیک په رڼا کې بیا هم یاګانې سمې نه دي لیکلې، چې نه د کندهاري یاګانو دریځ مراعات شوی و نه هم د دودیزې پښتو د یاګانو سره برابر لیکدود دئ.

د ښاغلي مجاور احمد زیار (www.zyar.net) مې هم راونغاښته، هلته هم د نیولوجیزم (نویزونو) په نړۍ کې لاهو شوم. ښاغلی مجاور احمد زیار د نویو لغتونو په جوړولو بوخت دئ، چې ځینو لغاتو یې پښتو ته نوی ژوند ورکړی دئ، خو ځینو یې پښتو د نویولوجیزم په برېبوکۍ کې ډوبه کړې ده.

درنو دوستانو ما ځکه دغه بېلګې یادې کړې، چې زه لکه یو نامسلکي لیکوال که املایي او یا ګرامري تېروتنې وکړم، نو خدای شته چې د برائت لپاره یوه لاره ځان ته موندلی شم، د پارسیانو خبره (بیني خمیري برایم جور میکنم!)، مګر ځانګپوه لیکوال باید په خپلو لیکنو کې تر نورو ډېر پام وکړي، که د پښتو ستې هم له ګرامري و املایي تېروتنو سره لیکنې وکړي، بیا نو موږ چاته وژاړو او که ووایو چې ځه قاضي هسې نورور ته نصیحت کوي او پخپله شراب څښي!

درنو هېوادوالو! ما چې تر ننه افغاني ټولنه لیدلې ده او د لیکوالو لیکنې مې یې لوستې دي، نو باید دا په ګوته کړم، چې ګڼشمېر لیکنې د ټولنپوهنې او پېښلیک په برخه کې تر سره شوې دي او یو شمېر لیکوال د مهال، شرایطو او پېښو په پام کې نیولو سره له یو او بله لیکنې کاپي کوي او یو څه پکې ورزیات کړي او بل څه ترې کم کړي او یا هم خپل نظر ورزیات کړي، لکه اوبه چې تر بوسو لاندې تېرې کړي، نو دغه لیکوال هم خپلې لیکنې په دې ډول پرنورو تپي او خپروي یې، خو زما اندېښنه دا ده ، چې پښتو څه ډول معیاري او علمي شي، نه دا چې په سلهاوو پاڼې تورې کړو.

ښاغلی سعدالدین شپون په ځانګړي ډول د پښتو ستونزې یادوي او د پښتو په کره توب کې غوره سپاربښتونه ورکوي. له نیکه مرغه، چې د ښاغلي شپون صیب وروستۍ لیکنه (مور وینا درزده کړه، لیکدود یې نه و زده)، چې د پښتو کره لیکدود په اړه یې ډېر غوره مالومات ورکړي، ګړدودونه پکې سپړل شوي او د پښتو ستونزې یې رابرسېره کړې دي. باید یاده شي، چې د ښاغلي شپون دغه لیکنه د هر افغان لپاره د عبرت مشال دئ او د شپون صیب دغه لیکنه باید د هرې هېوادپالې برېښنا پاڼې د لومړي مخ غوره سر لیک وي، نه دا چې د څو ګړیو لپاره خپره شي او بیا بیرته له رسنیو لیرې شي.

پایله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

درنو ورونو او خویندو! پښتو یوازې په شعر، لنډوکیسو او راپورونو نه پښتو کېږي، پښتو د پښتنو د ذهنیت جوړېدو ته اړتیا لري، چې په پوهنیزه توګه باید وڅېړل شي او د علمي سیمینارونو په رڼا کې د نیمه پوهانو ذهنیتونه روښانه شي. پښتو یوازې په ټولنپوهنه نه ژوندۍ کېږي، پښتو باید دساینس، روغتیاپالنې او نورو جوتو عولومو ډګر ته وردننوځي او لمنه یې په ساینسي لیکنو درنه شي.

پښتو ژبه باید د ادارې، ښوونځیو او پوهنتونونو ژبه شي. په هېواد کې باید په پښتو کتابونو سمبال کتابتونونه جوړ شي. په کمپیوټر کې باید کره پښتو وکارول شي و د پښتو پوهنیزه برخه باید پیاوړې شي او تر ټولو غوره دا ده، چې پښتو خپل ملي بنسټ پیاوړی کي، چې ځیېدلې پښتو د ملت ژبه شي، د دولتي ادارې و ټولنیز پوهاوي ژبه شي، نه لکه اوس، چې د یو شمېرلیکوالو د تندې ماوتولو ژبه وي او یا هم د ځینو لیکوالود ذهني انارشیزم په لومه کې لاهو شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ